# موسيقي

# حرامه ده

30 April 2026



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سنّتونکه اجتماع کښې کیدونکے

د سنّتونکه بیان

پهٔ 30 اپریل، کال 2026ء (بمطابق: 12 ذوالقعده شریف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# موسيقي حرامه ده

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د بدۍ خریدار
- ژاړۍ نهٔ او سندرې اورۍ!!
- د موسیقۍ نه بچ کیدل واجِب دي
- د موسیقۍ نه د بچ کیدو اِنعام

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې پۀ ما باندې سحر او مابنام 10، 10 كرته دُرُود شريف ولوستو د هغۀ به د قيامت پۀ ورځ زما شفاعت نصيب كيږي۔ (1)

کہیں گے اور نبی اِذْهَبُوْا اِلٰی غَیْرِیْ | مرے حضور کے لَب پر اَنَا لَهَا ہو گا (2)

**وضاحت:** د قيامت پۀ ورځ به چې كله خلق د نورو انبيائے كرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام پۀ خِدمت كښې د شفاعت د سوال سره حاضريږي نو ټول نبيان به فرمائي: اِذْهَبُوْا اِلٰی غَیْرِیْ زما نه علاوه د بَل چا خوا له لاړ شئ! خو چې كله خلق دربارِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شي نو خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرمائي: اَنَا لَهَا، اَنَا لَهَا د دې كار (يعني د شَفاعت) د پاره هم زۀ يم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... مجمع الزوائد، کتاب الاذکار، جلد:10، صفحه:120، حديث:17022۔

[2]... ذوق نعت، صفحه:54۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات** د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے- (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ پهٔ اَدب به کښينم ◈ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ◈ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِيمان خِلاف سازش

**روايت دے:** پهٔ مکه مکرمه کښې نَضر بِن حارِث نومې يو غير مسلمه ګس وو، دې بد نصيبه به د اِسلام سره ډيره سخته دښمني کوله- هغهٔ د اِسلام پهٔ لاره کښې د خنډانو [يعني رکاوټونو] جوړولو د پاره يوه طريقه اِختيار کړه چې پهٔ خوږ اواز کښې سندرې ويونکې وينزې به يې اخستلې، هغوئي به يې د ځان سره ساتلې، خوراک څښاک به يې پرې کولو او د هغوئي به يې ښهٔ ډير خيال ساتلو، داسې ووايئ چې دې بدبخته د ګناهونو ښه پوره اډه جوړه کړې وه- کله چې به دهٔ ته معلومه شوه چې فلانکے ګس د اِسلام طرف ته مائله کيږي، د هغهٔ زړهٔ د اِسلام د پاره نرم شوے دے، نزدې ده چې هغه به کلمه ووائي او مسلمان به شي- داسې خلق به يې خپلې د ګناهونو اډې ته بوتلل، سندرې ويونکو

---

1 … بخارى، كتاب بدء الوحى، صفحه:65، حديث:1۔

وینزو ته به یــې وئیل: پۀ دۀ باندې خوراک اوکړئ، شرابونه پرې وڅښئ او ښې ډېرې سندرې ورته ووایئ!

ځغه وینزو به هم داسې کول، بیا به دۀ د کلمې وئیلو اراده کوونکي ته وئیل: وګوره! پۀ دې کارونو کښې څومره مزه ده، مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د کومې خبرې دعوت ورکوي، د نــمونځ وغیره حکمونه کوي: پۀ هغې کښې دومره مزه چرته ده--!! پۀ دې ډېر خطرناک چل ول به دۀ د خلقو د اِسلام نه د لرې ساتلو کوشش کولو-[1]

خو قُربان شم!

نُورِ خُدا ہے کفر کی حرکت پہ خندہ زن | پُھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائے گا

نَضر بِن حارِث ډېر کوشش اوکړو، خلق یــې ډېر وغولول خو اِسلام خو اِسلام دے، د محبوبِ خُدا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حُسنِ مقدس د اثر، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږو خوږو خبرو د خوند، د ښکلو تعلیمانو د رڼا پۀ وړاندې دا خرابۍ او کمزورۍ حربې چرته ایساریدے شوې ، زړونه خو د اِسلام طرف ته مائله کیدل وو او مائله کیدل به هم ، خلقو ته کلمه وئیل وو او وئیله یــې هم - اِسلام خوریدو او د نَضر بن حارِث ټول کوششونه ناکامه شول-

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده علامه مصطفٰے رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي:

---

[1]...الدر المنثور، پارہ:21، سورۂ لقمان، زیرِ آیت:6، جلد:6، صفحہ:504 مفصلاً۔

وہ حُسینؓ کیا جو فتنے اُٹھا کر چلے | ہاں حُسینؓ تم ہو فتنے مِٹا کر چلے
رَبّ کے بندوں کو رَبّ سے مِلا کر چلے | جلوہ حق وہ ہم کو دِکھا کر چلے
جگمگا ڈالیں گلیاں جدھر آئے وہ | جب چلے وہ تو کُوچے بَسَا کر چلے
سب کو اِسلام کا تم نے بخشا شرف | گِرتے پڑتوں کو پیارے اُٹھا کر چلے (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بدۍ خریدار

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! نَضر بِن حارِث بدبخته چې د اِسلام خلاف کوم ډېر خطرناک سازش جوړ کړے وو، د سندرو سازونو، د ګډا او د شرابو پهٔ محفلونو کولو به يــې خلق ګمراه کول غوښتل، صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْـهما فرمائي: د دې پهٔ مذمت کښې د 21 سيپارې، د سُورۀ لُقمان آيت: 6 نازل شو، **الله** پاک فرمائي: (2)

وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ یَّشْتَرِیْ لَهْوَ الْحَدِیْثِ لِیُضِلَّ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ بِغَیْرِ عِلْمٍ ﴿ۖ وَّ یَتَّخِذَهَا هُزُوًاؕ اُولٰٓىٕكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِیْنٌ ﴿۶﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بعضې خلق د لوبو خبرې [پهٔ بيعه] اخلي د پاره د دې چې پهٔ بے پوهې د الله د لارې نه بے لارې کول اوکړي او د هغې نه ټوقې ټقالې جوړې کړي- د هغوئي د پاره د ذِلت عذاب دے-

1...سامانِ بخشش، صفحہ:179-181 ملتقطاً۔
2...الدر المنثور، پارہ:21، سورۂ لقمان، زیرِ آیت:6، جلد:6، صفحہ:504۔

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما د دې آیت مبارک پهٔ تفسیر کښې قَسم خوړې او فرمائي چې دلته د لَـهوَ الـحَدِیث (یعنې د لوبو د خبرو) نه مُراد سندرې سازونه دي-[1] مطلب دا شو چې د نَضر بن حارِث پهٔ شان **هُغه خلق کوم چې خپله پیسه د لوبو ټوقو پهٔ خیزونو باندې لګوي، پهٔ سندرو سازونو باندې، د دې د آلاتو پهٔ اخستو باندې، پهٔ میوزیکل فنکشنز (*Musical functions*) باندې یـې لګوي** چې د دې پهٔ ذریعه ګمراهي خوره کړي، خلق د **الله** پاک د لارې نه لرې کړي، د هدایت نه ټوقې جوړې کړي، د داسې خلقو د پاره د ذِلت عذاب دے-

| | |
|---|---|
| تُو ڈر اپنا عنایت کر رہیں اس ڈر سے آنکھیں تر | مٹا خوفِ جہاں دل سے مٹا دُنیا کا غم مولیٰ |
| تو بس رہنا سدا راضی، نہیں ہے تابِ ناراضی | تو ناخُوش جس سے ہو برباد ہے تیری قسم مولیٰ[2] |

## د کافِرانو سره پهٔ جُرم کښې شریک

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې آیت مبارک او د دې پهٔ شانِ نزول باندې غور اوکړئ! خومره واضحه او صفا معلومیږي چې سندرې سازونه، ګډا او سرور وغیره د اِسلام خلاف سازش دے، د نن نه نهٔ بلکې 1500 کاله مخکښې به غیر مسلمو بد بخته خلقو د اِسلام نه د منع کولو د پاره، د نیکۍ نه د لرې کولو د پاره، زړونه د هدایت د نُور نه د لرې کولو د پاره سندرې سازونه اِستعمالول-

[1] ...قرطبی، پاره:21، سورۂ لقمان، زیر آیت:6، جز:14، جلد:7، صفحہ:33۔
[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:98۔

نَضر بن حارِث بد بخته خو کله مړ شوے دے، د دوزخ پهٔ وور کښې به سوزيږي، پروت به وي او چغې سورې به وهي خو افسوس---!! ډېر افسوس چې د هغهٔ شروع کړے شوے سازش نن هم جاري دے، صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم خو د دې بد بخته پهٔ سازش باندې پوهه هم وو او د هغهٔ نه به يې ځان هم ساتلو، هغوئي خو پهٔ دې اِمتحان کښې کامياب شول خو نن---!! نن غير مسلمو ته د دې سازشونو څهٔ ضرورت دے، پخپله مسلمانان ور وړاندې کيږي او د دې سازشونو حصه جوړيږي- ځومره مسلمانان دي کوم چې پهٔ زرګونو نهٔ بلکې پهٔ لکونو روپۍ پهٔ سندرو سازونو او فلمونو او ډرامو باندې لګوي ۞ د موسيقۍ لوئې لوئې دستورې جوړولے شي ۞ د وادهٔ ښادۍ پهٔ موقع باندې د سندرو او د سازونو باقاعده اِنتظام کولے شي، کوم چې مالداره دي، د پيسو والا دي، هغوئې ډېرې پيسې لګوي او ډَمې او سندر غاړي راغواړي او د سندرو او د سازونو محفلونه کوي او کوم چې غريبانان دي، دومره پيسه نشي لګولے، هغوئي سپيکر لګوي، ريکارډ کړے شوې سندرې غږوي او پهٔ محله کښې درز غوبل کوي ۞ مخکښې به خبره د ټي وي(*T.V*)وه، وِي سِي آر(*V.C.R*)وه، اوس خو د غټ غټ سائز والا ***L.E.Ds*** لګولے کيږي ۞ پهٔ زرګونو نهٔ بلکې پهٔ لکونو روپۍ لګولے کيږي او ووفَر سسټم (***Woofer system***) اخستلے کيږي ۞ پوره کمره د مُيُوزِک رُوم پهٔ توګه ډيزائن کولے شي ۞ بلکې چارج کيدونکې هيډ فون راغلي دي، چرته چې هم وي، هيډ فون (***Headphone***) غوږونو ته ولګوي او د سندرو پهٔ اواز باندې ټوپونه وهي، ګډيږي ۞ دا خو د مالدارو کارونه دي، اوس لږ لاندې طبقې ته راشئ، هغه خلق کوم چې د غريبۍ فريادونه کوي، د هغوئي هم دا حال دے ۞ څهٔ موده مخکښې داسې وو چې پهٔ ټول مارکيټ کښې به يو يا دوه، يا څلور دکانونه د سي ډيز

(**CDs**) والا، د وي سي آر (**V.C.R**) والا وو، اوس خو ځائے پۀ ځائے ناست وي، يو وړوکے شان ميز يـې ايښودے وي، د پاسه پرې کمپيوټر (**Computer**) پروت وي او اِشتهار يـې لګولے وي: **ميموري کارډ فُل کړئ، پۀ موبائل کښې سندرې، فلمونه زمونږ نه واچوئ**- د دې نه هم وړاندې لاړ شئ نو ځان سره يـې موبائل ايښودے وي، انټرنيټ پيکج موجود وي، پۀ سوشل ميډيا باندې لګيا وي رِيلز (**Reels**) ګوري، د موسيقۍ نه ډک، د ګناهونو ډکې ويډيوګانې ګوري- نور به څۀ عرض کړم: پۀ خَر ګاډو کښې هم سندرې غږيږي- غرض دا چې سندرې سازونه، ميوزک، موسيقي زمونږ پۀ معاشره کښې دومره عامه شوې ده، دومره عامه شوې ده چې پۀ مشکله به پۀ يوه کوڅه، يوه محله، بازار باندې د موسيقۍ د اواز اوريدو نه بغير تيريږې- مشکله ده چې داسې ځائے وي پۀ کوم چې راتيريږې او غوږونو ته دې د (**Music**) اواز رانشي- که د مسلمانې سوسائټۍ (**Muslim Society**) صرف پۀ سندرو سازونو باندې د لګيدونکې د مياشتې خرچې حساب اوکړے شي نو کيدے شي چې خبره کروړونو اربونو ته ورسيږې- خو افسوس!

اے خاصۂ خاصانِ رُسُل وقتِ دُعا ہے | اُمّت پہ تیرے آ کے عجب وقت پڑا ہے

## د موسيقۍ د آلاتو د ماتولو ذمه واري

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ چې د چا پۀ غلامۍ کښې ژوند تيروو، د کوم آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ غلامۍ باندې چې ناز کوو، د هُغه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حديثِ پاک واورئ:

فرمائي: **بُعِثْتُ بِهَدْمِ الْمِزْمَارِ، وَالطَّبْلِ** زۀ د موسيقۍ د آلاتو د ماتولو د پاره راليږلے شوے يم-[(1)]

اَللّٰہُ اَکْبَر! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** اندازه ولګوئ چې نن سبا مسلمانان د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د راتللو د مقصد نه څومره اُلټا چليږي، محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د موسيقۍ د آلاتو د ماتولو د پاره تشريف راوړے او مسلمانان د موسيقۍ د اوريدو په آلاتو باندې لګونه روپۍ لګوي-

جو دِین بڑی شان سے نکلا تھا وطن سے | پردیس میں وہ آج غریب الغرباء ہے

## ژاړۍ نۀ او سندرې اورۍ---!!

**اللّٰه** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ تَضْحَكُوْنَ وَ لَا تَبْكُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَ اَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿۶۱﴾ (پاره:27، سورۀ نجم:6160) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او [تاسو] خاندئ او ژاړۍ نۀ. او تاسو په غفلت کښې پراتۀ يئ- |

صحابئ رسول حضرت عبد اللّٰه بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما په دې آيت مبارک کښې د لفظ سٰمِدُوْن (يعني په غفلت کښې پراتۀ يئ) معنىٰ بيانوي او فرمائي: **د دې نه مُراد سندرې دي**-[(2)]

يعني دا فرمائيلے کيږي چې اے خلقو---!! په تاسو څۀ شوي دي---؟ تاسو ژاړۍ نۀ، خاندئ او په سندرو وئيلو (او اوريدو) کښې مصروف يئ---!!

---

1... فوائد التمام، صفحہ:49، حدیث:100۔

2... قرطبی، پارہ:21، سورۂ لقمان، زیرِ آیت:6، جز:14، جلد:7، صفحہ:32۔

الله! الله! خورو او محترمو اِسلامي ورونو! دا مونږ له زورنه راکړے کيږي--!! چې اے خلقو!! عبرت ولې نۀ حاصلوئ--! پۀ خپلو ګناهونو يادولو باندې ولې نۀ ژاړئ؟ بس هر وخت خاندئ؟ پۀ ګپونو ټوقو ټقالو کښې مشغول يې--؟ سندرې اورئ--؟

## د نمونځ ګزارو نه به هم شادوګان جوړ شي

يو عبرتناک حديثِ پاک واورئ! ډير عبرتناک حديثِ پاک دے- د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په اخره زمانه کښې به د دې اُمت بعضې خلق شادوګان او خنزيران جوړ کړے شي-

**وضاحت:** اَللّٰهُ اَکۡبَر! مونږ پۀ خوش فهمۍ کښې اخته يو چې مونږ د دواړو جهانو د رحمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتيان يو، ځکه به پۀ مونږ باندې عذاب نۀ راځي- خبره واقعي چې ربنتيا ده، **الله** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| وَ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَ اَنْتَ فِيْهِمْ ؕ (پاره:9، سورۂ انفال:33) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او د **الله** دا شان نۀ دے چې هغوئي له عذاب ورکړي د خو پورې چې اے حبيبه! تۀ پۀ هغوئي کښې تشريف فرما يې- |

خو دا خبره هم ياده ساتئ چې پۀ دې اُمت باندې به عذابِ اِستِيصَال نۀ راځي يعنې چې ټول پۀ ټوله اُمت هلاک کړے شي، داسې به نۀ کيږي- البته! پۀ يو کور باندې خو عذاب راتلے شي، پۀ يوه محله باندې خو عذاب راتلے شي- پۀ يوه قبيله باندې خو عذاب راتلے شي-

خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "په آخره زمانه کښې به د دې اُمّت بعضې خلق شادوګان او خنزيران جوړ کړے شي-" صحابهٔ کرامو رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُم په حيرانئ سره تپوس وکړو: "يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم! آيا هغوئي به ايمان نهٔ لري؟ کلمه به نهٔ لولي؟"

اوس مخکښې چې کوم عبرتناک الفاظ دي، هغه پهٔ غور سره واورئ! وه يې فرمائيل: بَلٰى ولې نهٔ (اے زما صحابهٔ کرامو! تاسو صرف د اِيمان خبره کوئ) وَيَصُوْمُوْنَ وَيُصَلُّوْنَ وَيَحُجُّوْنَ ❁هغوئي به روژې هم نيسي، ❁نمونځونه به هم کوي، ❁حج به هم کوي-

**وضاحت:** اوس خو د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان حيرانتيا نوره هم زياته شوه- پهٔ مخکښينو اُمتونو باندې چې کوم عذابونه راغلل، د هغوئي لوئي جُرمونه خو هم دا وو چې هغوئي به کلمه نهٔ وئيله، ❁د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام قوم کلمه نهٔ وئيله نو عذاب پرې راغلو، ❁د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَام د قوم نور جرمونه هم وو خو کلمه يې نهٔ وئيله نو عذاب پرې راغلو، ❁عاد او ثمود قومونو کلمه نهٔ وئيله نو عذاب پرې راغلو، دلته خو کلمه ويونکي، اِيمان والا، روژه نيوونکي، نمونځونه کوونکي، حج کوونکي--!! پهٔ دوئي باندې به عذاب راشي، د دوئي نه به شادوګان او خنزيران جوړ کړے شي---؟

عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د هغوئي جُرم به څهٔ وي---؟

وه يې فرمائيل: دا خلق به د موسيقیٖ آلات ساتي، سندر غاړې به ساتي (سندرې سازونه به اوري) ټوله شپه به شرابونه څښي، پهٔ لوبو ټوقو کښې به مصروف اوسي، سحر چې راپاڅي نو شادوګان او خنزيران به ترې جوړ شوي وي-(1)

---

1... موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب ذم الملاہی، جلد:5، صفحہ:280۔

# پۀ ظاهره نيک نـمونځ ګزاره خو---

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څومره د عبرت خبره ده---!! يعنې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ليدل چې زما پۀ اُمت باندې به داسې وخت هم راځي، چې پۀ ظاهره نـمونځ ګزاره، جوماتونو ته تلونکي، روژه نيونکي، د حج او عمرې د پاره ژړيدونکي، پۀ ظاهره مذهبي خلق به هم د سندرو او سازونو پۀ سپيره والي کښې راګيريږي-

آه! دا زمانه مونږ پۀ خپلو سترګو باندې وينو- يو وخت وو، کله چې ***T.V*** نوے نوے راغلے، پۀ محله کښې به چې پۀ کوم کور کښې ټي وي وو نو خلقو به خپل بچې هغه کور ته د تللو نه منع کول چې هلته به ماشومان پۀ ټي وي کتلو خراب شي- اوس خو خبره د کوم ځائے نه کوم ځائے ته ورسيدله---! ټي وي، وي سي آر، سي ډي دا ټولې خو زړې خبرې شوې- اوس خو د هر يو پۀ جيب کښې موبائل دے- پۀ کور کښې چې 5 کسان دي نو د ټولو سره خپل خپل بيل بيل موبائل دے- څوک څۀ ګوري، څوک ترې هډو خبريږي نۀ- ◈ عام طور هُم دا حال دے چې سوشل ميډيا ګوري نو چرته نا چرته پۀ موسيقۍ وغيره کښې راګيريږي ◈ خالص مذهبي ويډيو، بيان، نعت که لګوي نو ايډ (***Ads***) پکښې راځي، پۀ دې کښې بد نظري او د موسيقۍ ذريعې موجودې وي ◈ بلکې د ميوزک والا نعتونه هم پۀ مارکيټ کښې موجود دي ◈ ټوله ټوله شپه محفلونه کولے شي، د ميلادِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نوم باندې محفلونه جوړيږي، د لرې لرې نه شخصيات رابللے شي، پۀ دې کښې د ميوزک سره نعتونه وئيلے کيږي-

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! سوچ اوکړئ--!! دا پۀ مونږ څۀ شوي دي--! مونږ کوم اړخ ته روان شوي يو- سوچ خو اوکړئ--!! هٰغه خلق کوم چې پينځۀ وخته پاڅۀ نـمونځ ګزاره هم دي، روژې هم نيسي، ښه ښه ستيټس (*Status*) هم لګوي خو کله چې د شپې يواځې شي، هينډز فري ولګوي او پۀ موبائل باندې پته نۀ لګي چې څۀ څۀ ګوري--!! سوچ اوکړئ! که دا عبرتناک حديثِ پاک چرته هم زمونږ پۀ باره کښې وي--!! آه! د شپې پۀ موبائل باندې د ګناهونو نه ډکو څيزونو پۀ کتو کتو اوده شو، سحر چې راپاځو نو شادوګان يا خنزيران رانه جوړ شوي وي نو زمونږ به څۀ کيږي--؟ آه! د اخرت عذاب خو پۀ خپل ځائے دے پۀ دُنيا کښې به مو هم عزت لاړ شي-

## فلانکے پۀ زمکه کښې ننوتو

پۀ حديثِ پاک کښې دي: رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پۀ دې اُمت کښې به يو قوم وي، هغوئي به د شپې خوراک څښاک اوکړي، ښې لوبې ټوقې به کوي- چې سحر شي نو شادوګان او خنزيران به ترې جوړ شوي وي، د هغوئي کورونه به پۀ زمکه ننه شي- خلق به چغې وهي: د شپې د فلانکي کور پۀ زمکه ننوتے دے- د بل طرف نه به اواز راځي: د فلانکي کور هم پۀ زمکه ننوتے دے- نور يـې وفرمائيل: پۀ هغوئي باندې به د اسمان نه داسې کاڼي راوريږي لکه څنګه چې د لوط پۀ قوم باندې راوريدلي وو، داسې تباه کوونکے طوفان به راځي، لکه څنګه چې پۀ عاد قوم باندې راغلے وو-

د هغوئي جرمونه به څۀ وي؟ ويـې فرمائيل: ◈ شراب به څښي ◈ ريښم به اغوندي ◈ سندرې غاړې (يعني سندرې او سازونه) به اختياروي ◈ سُود به خوري ◈ او خپلوی

به ماتوي-[1]

د **الله** پاک پناه--!! آه! ◈ د ودونو پهٔ دستورو کښې ◈ د نکریزو پهٔ شپه پهٔ کورونو کښې د سندرو ګډاګانو بندوبست کوونکي، ټوله شپه پهٔ تیز اواز کښې سندرې لګوونکي او د ټولې محلې سکون او ارام بربادونکي ◈ کله د ویلنټائن ډے پهٔ نوم باندې ◈ کله د اختر پهٔ شپه ◈ کله د څهٔ ادارې یا کمپنۍ وغیره ګولډن جوبلي نو کله د سلور جوبلي، کله د ډائمنډ جوبلي ◈ کله د ماشوم د سالګرې او پته نهٔ لګي چې پهٔ کومو کومو نومونو ټوله ټوله شپه دستورې راجوړونکي، ټوله ټوله شپه میوزک غږوونکي، سندرې سازونه اوریدونکي غږوونکي، د ګډاګانو محفلونه جوړوونکي دې لږ پهٔ رښتوني زړهٔ غور اوکړي- دا عبرتناک حدیثِ پاک که چرې زمونږ پهٔ باره کښې شو، هٰغه کور کوم چې به پهٔ زمکه ننوځي، الله دې نهٔ کړي! که هغه هم زمونږه کور شو، هٰغه خلق کوم چې به شادوګان خنزیران جوړ کړے شي، آه! که چرې هم مونږ نه جوړ شو، پهٔ کومو چې به کاڼي راوریږي- هئ! هئ! که چرې دا بد نصیبه هم مونږ شو نو سوچ اوکړئ چې زمونږ به څهٔ کیږي--؟

| | |
|---|---|
| آج بنتا ہوں معزز جو کھُلے حشر میں عیب | آہ!رُسوائی کی آفت میں پھنسوں گا یاربّ! |
| گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہو گی | ہائے!میں نارِ جہنّم میں جلوں گا یاربّ! |
| عفو کر اور سدا کے لیے راضی ہو جا | گر کرم کر دے تو جنّت میں رہوں گا یاربّ! [2] |

---

1...مسند ابی داود طیالسی، جلد:2، صفحہ:456، حدیث:1233۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:85ملتقطاً۔

## توبه کړئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس هم زمونږ سره وخت شته، ساه اخلو، مونږ ته د توبې طرف ته تلل پکار دي، د سندرو سازونو اوريدو، فلمونو ډرامو کتو، د ګنده او د ګناهونو نه د ډک ريلز کتو، په سوشل ميډيا باندې د وخت ضائع کولو وغيره ټولو غلطو کارونو نه توبه کول پکار دي-

کر لے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی | قبر میں ورنہ سزا ہو گی کڑی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سندرو په مذمت باندې احاديث

پهٔ حديثِ شريف کښې دي: پهٔ 2 اوازونو باندې پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې لعنت دے (1): د نعمت پهٔ وخت باجه (2): د مصيبت پهٔ وخت چغې وهل-[1]

امام بَيهَقِي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نقل کوي چې: د سندرو سازونو نه خپل ځان بچ ساتئ ځکه چې دا پهٔ شهوت باندې راپارول کوي او غيرت بربادوي او دا د شرابو برابر دي، پهٔ دې کښې د نشې پهٔ شان اثر دے-[2]

بینڈ باجوں سے تُو کوسوں دور بھاگ | ورنہ دوزخ کی تجھے کھائے گی آگ

---

1...مسند بزار، جلد:14، صفحہ:62، حدیث:7513۔

2...شعب الایمان، باب فی حفظ اللسان، فصل فی حفظ اللسان...الخ، جلد:4، صفحہ:280، حدیث:5108۔

کر لے توبہ ربّ کی رحمت ہے بڑی | قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی (1)

## د فون د میوزیکل ټیونز نه توبه کړئ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! نن سبا په موبائل فون کښې هم مَعَاذَالله! اکثر میوزیکل ټیون وي او د چا په فون کښې چې میوزیکل ټیون وي د هغه د پاره ضروري دي چې اوس او هم په دې ساعت توبه کړي او لاس په لاس دا خپل سپیره ټیون د همیشه د پاره ختم کړي- ځکه چې دا میوزیکل ټیون غرېږي ځپله به هم د اوریدو په افت کښې راګیرېږي او بَل مسلمان که هم د اوریدو نه د بچ کیدو کوشش نهٔ کوي نو راګیرېږي به-

## موسيقي نفاق پیدا کوي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته عجیبه حال دے، په موسیقۍ مئینو د خپلې سودا خرخولو د پاره بیله بیانیه راویستې ده، وائي چې موسیقي د رُوح غذا [یعني خوراک] دے- اَسْتَغْفِرُالله!

آؤ! دا خبره ټیک ده- واقعي ده چې موسیقي د رُوح غذا ده خو زهریله--!! په دې کښې دومره خطرناک زهر دي کوم چې ډیر په تیزۍ سره رُوح خرابوي- عظیم صحابئِ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي:

اَلْغِنَاءُ یُنْبِتُ النِّفَاقَ فِی الْقَلْبِ کَمَا یُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ وَالذِّکْرُ یُنْبِتُ الْاِیمَانَ فِی الْقَلْبِ کَمَا یُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ

ترجمه: سندره په زړهٔ کښې داسې نفاق پیدا کوي، لکه څنګه چې اوبهٔ پټے راټوکوي او ذِکر

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:712، 714 بتقدم وتاخر۔

پۀ زړۀ کښې داسې اِيمان پيدا کوي، لکه څنګه چې اوبۀ پټے راټوکوي-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې د رُوح دوه خوراکونه دي: (1): سندره: دا ډېر زهريله خوراک دے، کوم چې پۀ زړۀ کښې دننه نفاق پيدا کوي او رُوح خرابوي (2): دويم خوراک د الله پاک ذِکر دے، دا ډېر فائده مند خوراک دے کوم چې پۀ زړۀ کښې د اِيمان نُور پيدا کوي او رُوح ځلانده کوي-

## د عملي مُنافِقت مثالونه

افسوس چې نن سبا تقريباً پۀ هر يو ځيز کښې موسيقۍ پنجې ښخې کړې دي ◈ که موټر وي او که هوائي جاز ◈ ټرک وي او که بس ◈ ټيکسي وي او که سوزکے ◈ خر ګاډے وي که د غويانو ګاډے ◈ کور وي او که دُکان ◈ کارخانه وي او که ګودام ◈ هوټل وي او که پان هټۍ تقريباً پۀ هر ځائے کښې موسيقي اوريدلے کيږي- ماشوم هم سترګې د موسيقۍ پۀ سازونو کښې غړوي، د خوار مخې ته د لوبو ځيز زوړندولے شي کوم چې هغه ته موسيقي غږوي او اوډۀ کوي يــې ◈ د لوبو پۀ ګوډاګو کښې که ګوډۍ وي او که ميلو ◈ ريل ګاډے وي او که هوائي جاز پۀ ټولو کښې موسيقي وي د دې پورې چې د ماشومانو پيزار هم موسيقي غږوي! بيا يــې نتيجې ته وګورئ چې پۀ معاشره کښې عملي منافقت يعنې د مسلمانۍ باوجود د منافقانو پۀ شان عادتونه خومره عام کيږي- پۀ قرآنِ کريم کښې د منافقانو نخښې بيان شوې دي:

---

1…سنن کبریٰ للبیہقی، جلد:10، صفحہ:420، حدیث:21007۔

| | |
|---|---|
| وَاِذَا قَامُوْۤا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰىۙ (پاره:5، سورۀ نساء:142) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او کله چې د نـمانځه د پاره ودرېږي نو ډېر په سستۍ سره ودرېږي- |

معلومه شوه چې په نـمونځونو کښې ناراستي د منافقت نخښه ده، اوس وواېئ چې ◈ خومره مسلمانان دي کوم چې هډو نـمونځ نهٔ کوي ◈ خومره خلق دي کوم چې وائي: زما نـمونځ ته ډېر نهٔ لګي ◈ خومره داسې هم دي کومو چې به مخکښې په پابندۍ سره نـمونځونه کول او اوس يـې نهٔ کوي-

دا چې په زړهٔ کښې نفاق پيدا کيدل نهٔ دي نو نور څهٔ دي؟ **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۴۲﴾ (پاره:5، سورۀ نساء:142) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او **اللّٰه** ډېر کم يادوي- |

معلومه شوه چې د اللّٰه د ذِکر طرف ته رغبت نهٔ کيدل هم د منافقت نخښه ده، په دې باندې هم غور اوکړئ چې زمونږ په معاشره کښې فلمونه کتونکي خومره دي او تِلاوت کوونکي خومره دي ◈ سندرې اوريدونکي خومره دي او نعتونه اوريدونکي خومره دي- يقيناً چې محفلونو ته د راتلونکو، د نعتونو اوريدونکو، مدينے منورې ته د تلونکو شميره هم کمه نهٔ ده خو موازنه چې اوکړے شي نو ډېر فرق موجود دے-

◈ په حديثِ پاک کښې اِرشاد دے: دروغ وئيل د منافق نخښه ده-[1] وګورئ چې زمونږ

[1]...بخاری، کتاب الایمان، باب علامۃ المنافق، صفحہ:79، حدیث:34۔

پۀ معاشره کښې دروغ وئيل خومره عام دي ◈ پۀ حديثِ پاک کښې فرمائيلے شوي دي چې پۀ امانت کښې خيانت کول د منافق نخښه ده ◈ کنځلې کول د منافق نخښه ده ◈ وعده خلافي کول د منافق نخښه ده۔(1) تاسو غور اوکړئ چې آيا دا خيزونه زمونږ پۀ معاشره کښې موجود نۀ دي؟ کنځلې خو د خلقو د ژبې پۀ سر پرتې وي، داسې داسې خرابې کنځلې کوي چې حيادار کَس يـې اوريدے هم نشي۔ د امانت دارۍ حال هم زمونږ مخې ته دے، نور به څۀ ووئيلے شي چې پۀ جوماتونو کښې پيزار هم محفوظ نۀ دے ◈ د جومات ټوټې هم محفوظې نۀ دي ◈ کۀ څوک د لارو د پاره د اوبو ټينکۍ پۀ کوڅه کښې ولګوي نو ګلاس يـې پۀ زنځير باندې تړلے وي۔ دا خو زمونږ د امانت دارۍ حال دے۔ دا هر څۀ خو نفاق دے۔ څنګه څنګه چې پۀ معاشره کښې موسيقي عامه کيږي، هم هُغسې د منافقت نخښې هم زياتيږي۔ دا ده تش پۀ نوم (چې ناپوهه خلق ورته) **د رُوح د غذا** (وائي دا ده د هغې) نتيجه--! معلومه شوه چې موسيقي د رُوح غذا ضرور ده خو دا ډيره زهريله غذا ده، کوم چې رُوح تباه کوي۔

## د رُوح حقيقي غذا

د رُوح حقيقي غذا کومه يوه ده؟ د **اللّٰه** پاک ذِکر--!! فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىِٕنُّ الْقُلُوْبُ ﴿۲۸﴾ (پاره:13، سورۀ رعد:28) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: واورئ! هُم د **اللّٰه** پۀ يادولو زړونه سکون حاصلوي۔ |

معلومه شوه چې د رُوح اصلي خوراک د **اللّٰه** پاک ذِکر دے کوم چې د **اللّٰه** پاک پۀ

1... بخاری، کتاب الایمان، باب علامۃ المنافق، صفحہ:79، حدیث:34۔

فضل سره مره شوي زړونه هم راژوندي کوي- پۀ حديث شريف کښې دي، د **اللّٰه** پاک حبيب، د زړونو طبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه لکه څنګه چې اوسپنه زنګ نيسي، هم داسې زړونه هم زنګ نيسي- عرض اوکړے شو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د زړۀ د زنګ عِلاج څۀ دے؟ وه يې فرمائيل: مرګ ډير يادول او د اللّٰه ذِکر ډير ډير کول-[1]

| | |
|---|---|
| کاش لب پر مِرے رہے جاری | ذِکر آٹھوں پہر ترا یارب! |
| چشمِ تر اور قلبِ مُضطَر دے | اپنی اُلفت کی مَے پِلا یاربّ!(2) |

## د توبې توفيق يې نصيب شو

حضرت ابو هَاشِم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل زۀ بصرې ته د تللو د پاره پۀ کشتۍ کښې کيناستم- پۀ هغه کشتۍ کښې يو سړے وو او د هغۀ سره د هغۀ وينزه وه- کله چې مونږ لږ وړاندې لاړو نو هغه سړي وينزې ته ووئيل: شراب راوړه! هغې شراب راوړل، سړي څښل شروع کړل او وينزې يې سندره شروع کړه- بيا هغه ګس ما ته وکتل او وه يې وئيل: آيا ستا سره د دې (سندرې) پۀ شان څۀ شته؟ ما ووئيل: آؤ! زما سره هغه څه دي کوم چې د دې نه ډير بهتر او ښه دي- هغه ووئيل: وواېه! ما د دې آيتونو تِلاوت اوکړو:

اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۙ﴿۱﴾ وَ اِذَا النُّجُوْمُ انْكَدَرَتْ ۙ﴿۲﴾ وَ اِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ۙ﴿۳﴾

(پاره:30، سورۀ تکوير:31)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې کله به نمر راغونډ [راټول] کړے شي- او چې کله ستوري راورژيږي- او چې کله غرونه روان کړے شي-

---

[1] ... شُعَبُ الايمان، جلد:2، صفحه:353، حديث:2014-

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه:79-

دا آيتونه چې يــې واوريدل نو هُغه ګَس پهٔ ژړا شو، کله چې زهٔ د **اللّٰه** پاک دې فرمان ته راورسيدم:

| | |
|---|---|
| وَ اِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴿۱۰﴾ (پاره:30، سورهٔ تکوير: 10) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او چې کله به اعمال نامې وسپړدلے شي- |

نو هغه ووئيل: اے وينزې! زهٔ تا د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره ازادوم، دا شراب توئي کړه! بيا هغهٔ زهٔ د ځان خوا ته وبللم او وه يــې وئيل: زما وروره! تهٔ څهٔ وائې؟ آيا **اللّٰه** پاک به زما توبه قبوله کړي؟ ما پهٔ جواب کښې د دې آيت تِلاوت اوکړو:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَ يُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿۲۲۲﴾ (پاره:2، سورة بقرة: 222) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه **اللّٰه** د ډيرې توبې کوونکو سره محبت فرمائي او ډير صفا سوتره اوسيدونکي خوښوي- |

(دا يــې چې واوريدل نو هغهٔ توبه کړه)- حضرت اَبُو هاشِم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: د هغې نه پس د 40 کالو پورې مونږ د دوستانو پهٔ شان وو- 40 کاله پس هغه وفات شو- ما هغه پهٔ خوب کښې وليدو او پوښتنه مې ترې اوکړه چې ستا سره څهٔ وشو؟ ستا استوګنه چرته ده؟ وه يــې وئيل: ما ته زما رَبّ جَنَّت راعطا کړو-(1)

سُبۡحٰنَ اللّٰه! دا دے د ذِکرُ الله برکت--!! معلومه شوه چې د رُوح اصلي خوراک د **اللّٰه** پاک

---

1... عيون الحکايات، الحکاية التاسعة والستون بعد المائة...الخ، صفحه:180-

ذِکر دے، کوم چې مړه شوي زړونه راژوندي کوي او نُوراني یې جوړوي-

## د موسیقۍ نه د بچ کیدو یو څو طریقې

لهٰذا هم د نن او هم د اوس نه د موسیقۍ نه پخه رښتوني توبه کړئ! مهٔ پخپله سندرې سازونه اورئ او مهٔ د نورو د اوریدو سبب جوړیږئ! ◈ دې د پاره خو وړومبے خپل موبائل پاک کړئ! ◈ پهٔ سنجیدګۍ سره غور اوکړئ چې آیا تاسو ته واقعي د انټرنیټ پیکج ضرورت دے؟ که واقعي صحیح حاجت وي نو پیکج کوئ! ګنې مهٔ یې کوئ! ◈ اکثر په خپل مینځ کښې د رابطې ضرورت زیات وي، ځکه داسې پیکج لګوئ چې په هغې کښې صرف رابطې کولو کښې اساني وي، چې سوشل میډیا وغیره پرې نهٔ چلیږي ◈ که د سوشل میډیا ضرورت وي، نو کوشش اوکړئ چې د فیس بک، ټِک ټاک وغیره ایپلي کیشنز نه ځان وساتئ! ◈ که د فیس بک، یوټیوب وغیره ضرورت وي، که د ښهٔ مقصد د پاره اِستعمالول وي نو د آئي ټي د ماهرانو پهٔ مرسته د ایډ بلاکنګ وغیره سیټنګ اوکړئ! ◈ که ممکن وي نو د بس پهٔ ځائے پهٔ ټرین کښې سفر کوئ چې پهٔ دې کښې سندرې نهٔ لګولے کیږي ◈ که پهٔ بس وغیره لوکل ټرانسپورټ یا هوائي جاز وغیره کښې سفر کول وي نو هینډز فري د ځان سره ساتئ! که بس والا سندرې لګوي نو وړومبے خو هغوئي له د نیکۍ دعوت ورکړئ! پهٔ مینه او محبت او پهٔ حکمت سره یې پوهه کړئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! خبره به اومني- که نهٔ یې مني نو پهٔ خپل موبائل کښې تلاوت یا نعت وغیره ولګوئ او هنډز فري پهٔ غوږونو کښې کیږدئ! ◈ د ویښتو ټیک کولو د پاره د داسې هیئر ډریسر ټاکنه اوکړئ کوم چې سندرې نهٔ اوري- که اوري یې هم نو پهٔ داسې وخت کښې ځئ کله چې د هغهٔ سره ګڼه نهٔ وي، که تاسو یواځې یۍ نو پهٔ سندرو بندولو کښې به اساني وي ◈ پهٔ خپل کور کښې صرف او

صرف مدني چينل لګوئ! چې دا ځانګړے اِسلامي چينل دے په کوم کښې چې د يو سيکنډ د پاره هم ميوزک نۀ چليږي- د کيبل يا ډِش آپريټر په ذريعه داسې سيټنګ اوکړئ چې په کور کښې د مدني چينل نه علاوه بل يو چينل هم هډو راځي نۀ- ګنې د چينل بدلولو سره د ميوزک چينل راتلے شي ◈ وړومبے خو ماشومانو له موبائل د سره ورکول نۀ دي پکار، که ورکول ضروري وي نو هغوئي سوشل ميډيا لګولو ته مۀ پرېږدئ! اِسلامي کارټون مثلاً غلام رسول کے مَدَني پهول ◈ حمزه ◈ کنيز فاطمه وغيره ورته لګوئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د ماشومانو ښه تربيت به هم کيږي او د موسيقۍ د افت نه به هم نجات حاصليږي-

## د موسيقۍ نه بچ کيدل واجِب دي

موسيقي په معاشره کښې ډيره عامه ده، حالات داسې دي چې د بچ کيدو ذِهن لرونکے که ډير کوشش اوکړي نو بيا څۀ نا څۀ د بچ کيدو لارې راولتے شي- ځکه که تاسو په څۀ طريقه د موسيقۍ نه نۀ بچ کيږئ نو دې طرف ته هډو پام مۀ کوئ! مثلاً تاسو په بازار کښې يئ او هلته ميوزک غږيږي، تاسو يې منع کولے هم نشئ، د هٔغه ځائے نه لرې کيدے هم نشئ نو دې طرف ته توجه مۀ کوئ! علمائے کرام فرمائي: چې د ميوزک اواز غوږونو ته رانشي، د دې پوره کوشش کول واجِب دي-[1]

دا خبره په ذِهن کښې ساتئ چې پوره کوشش کول واجِب دي- هسې د زړۀ دهوکه کولو د پاره درې څلور قدمه لرې کيدل کافي نۀ دي- خومره کوشش چې ستاسو په اِختيار کښې وي، هٔغه همره کوشش به کول وي-

---

1…ردالمحتار لابن عابدين، کتاب الحظر والاباحة، فصل فی البيع، جلد:9، صفحه:651۔

## عزت بچ کرہئ او تیر شئ!

**اللّٰه** پاک د نیکانو خلقو یو صفت ښودلے دے:

| | |
|---|---|
| وَاِذَا مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ﴿۷۲﴾ (پاره:19، سورهٔ فرقان:72) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او چې کله د کومې بیهوده خبرې په خوا تیریږي نو خپل عزت بچ ساتلو سره تیر شي- |

معلومه شوه چې نیکان خلق چې کله په یو ځائے تیریږي او هلته لغو او د ګناهونو نه ډک کارونه کیږي نو د هلته نه خپل عزت بچ کوي او تیریږي- لهذا چې چرته موسیقي غږیږي، د هُغه ځائے نه د عزت بچ کولو سره تیریدل خپل عادت جوړ کړئ!

## خوند اخستل د کُفر نه دي

په حدیثِ پاک کښې دي: د لــهو لَعِب (مثلاً د سندرو وغیره) طرف ته توجه کول ګناه ده، د دې سره کیناستل فِسق دے او د دې نه خوند اخستل د کُفر نه دي-(1)

یو خو دي چې اِنسان پخپله سندرې لګوي، دا خو ګناه ضرور ده، چرته سندرې غږیږي، مونږ په هُغه ځائے تیریږو، یا یو دُکان وغیره ته لا ړو، د سندرو اواز مو په غوږو شو، د هغې طرف ته توجه کول، هلته کیناستل، د سندرو نه خوند اخستل دا داسې خطرناک کار دے چې د اِیمان نُور کموي او تور والے زیاتوي-

---

1...حدیقه ندیه مع طریقه محمدیه، القسم الثانی...الخ، آفات الاذن، جلد:4، صفحه:392-393-

## پهٔ غوږونو کښې يې ګوتې ورکړې

حضرت نافِع رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: زهٔ (پهٔ ماشومتوب کښې) د حضرت عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما سره چرته روان ووم چې پهٔ لاره کښې د شپيلۍ اواز راغلو، حضرت عبد الله بنِ عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما پهٔ خپلو غوږونو کښې ګوتې ورکړې او د لارې نه بَل طرف ته شو، چې لرې لاړو نو پوښتنه يې اوکړه، نافعه! اواز راځي؟ ما عرض اوکړو: اوس نهٔ راځي- پهٔ دې اوريدو هغوئي د خپلو غوږونو نه ګوتې لرې کړې او اِرشاد يې وفرمائيلو: يو ځل زهٔ د مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره چرته روان ووم، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم داسې اوکړل څنګه چې ما اوکړل-[1]

## که د موسيقۍ اواز راځي نو د هغه ځائے نه لرې شئ

معلومه شوه چې څنګه د موسيقۍ اواز راشي نو فوراً پهٔ غوږونو کښې ګوتې ورکړئ او د هُغه ځائے نه لرې شئ ځکه چې که ګوتې مو پهٔ غوږونو کښې خو ورکړې وي خو هلته ولاړ وئ يا ناست وئ يا معمولي شان اخوا شوئ نو د موسيقۍ د اواز نه نشئ بچ کيدے- که ګوتې پهٔ غوږونو کښې نهٔ هم ږدئ خو پهٔ څهٔ چل د موسيقۍ د اواز نه د بچ کيدو پوره کوشش کول واجِب دي-

## د موسيقۍ نه د بيچ کيدو اِنعام

څوک چې د موسيقۍ اوريدو نه خپل ځان بچ کوي د هُغه خوش قِسمته اِنعام هم واورئ،

1...ابوداود، کتاب الادب، باب کراہیۃ الغناء والزمر، صفحہ:771، حدیث:4924۔

د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے: د قيامت پۀ ورځ به الله پاک فرمائي: چرته دي هغه خلق کومو چې به خپل غوږونه او سترګې د شيطاني مَزامير (يعنې د موسيقۍ د اوازونو) نه لرې ساتلې؟ هغوئي د نورو خلقو نه بيل کړئ! فرښتے به هغوئي بيل کړي او د مشکو او د عنبرو پۀ ډيرو باندې به يـې کښينوي، بيا به الله پاک فرښتو ته فرمائي: دوئي ته زما تسبيح او تَحميد واوروئ! فرښتے به پۀ داسې اواز (د الله پاک ذِکر) واوروي چې اوريدونکو به داسې اواز کله هم نۀ وي اوريدلے۔[(1)]

الله پاک دې مونږ ته د موسيقۍ نه د بچ کيدو، د سندرو سازونو وغيره د افت نه د بچ کيدو بلکې د هر قِسمه ګناهونو نه د بچ کيدو توفيق راعطا کړي۔ کاش چې د الله پاک پۀ رحمت، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت پۀ برکت مو بے حسابه جَنَّت ته داخليدل نصيب شي۔ اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: آئي ټي ډيپارټمنټ

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دعوتِ اِسلامي د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دے، کوم چې د مختلفو شعبو پۀ ذريعه پۀ دِيني او د خير ښيګړې پۀ کارونو کښې مصروف دے، پۀ دغه شعبو کښې يوه شعبه آئي ټي ډيپارټمنټ هم دے۔

دا شعبه د جديد ټيکنالوجۍ پۀ ذريعه عِلمِ دِين او د نيکۍ دعوت عام کوي۔ اوسه پورې د دې ډيپارټمنټ پۀ ذريعه 55 موبائل ايپلي کيشنز مثلاً ◈ تفسير صراط الـجنان ◈ فيضانِ

---

1... کنز العمال، کتاب اللھو واللعب والتغنی، جز:15، جلد:8، صفحہ:96، حديث:40658۔

حديث ◈ فتاویٰ رضويه ◈ بهارِ شريعت ◈ اِسلامِک سپيچز ◈ دار الافتاء اهلِ سُنَّت وغيره او **87** اِسلامک ويب سائټس مثلاً ◈ ***www.dawat islami.net*** ◈ ***www.dawat islami org*** ◈ ***ilyasqadri.com*** وغيره جاري شوي دي- د دې ايپلي کيشنز او ويب سائټس نه ښځېله هم فائده حاصله کړي او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ د يو ايپلي کيشن رعارف وړاندې کووم-

## قرآن ټيچر موبائل ايپلي کيشن

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قرآنِ کريم د فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټيچر (***Quran Teacher***)- ◈ د دې ايپلي کيشن په ذريعه د درسِ نظامي، فيضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس په شان د بے شميره آن لائن کورسونو د پاره رجسټريشن کيدے شي ◈ په سټوډنټ پورټل (***Student Portal***) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو په باره کښې ځان خبر ساتلے شي ◈ د دعوتِ اِسلامي په دې پليټ فارم باندې تقريباً 50 نه زيات اِسلامي کورسونه کولے شي- ◈ دا ايپليکيشن د آن لائن کيدونکو کورسونو په باره کښې هم معلومات ورکوي، تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر قِسمه کورس انتخاب کولے شئ او بغير د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ- دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ، ښځېله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# يو څو ضروري اِعلانات

◈ خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمونځ نه پس اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې بخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله عجيبه ازميښت اعلان کولے شي- دا رساله بخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ◈ مکـتبة الـمدينه يو اهم کتاب پهٔ نوم د سيرتِ مصطفٰیجانِ رحمت چاپ کړے دے- پهٔ کوم کښې چې تاسو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک ژوند، د هغوئي د پلار نيکونو، ولادت با سعادت، د ماشومتوب، ځوانئ او نورې اهمې واقعې لوستلے شئ- دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه په 450 روپے پهٔ بيعه حاصل کړئ، بخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې د لوستلو ترغيب ورکړئ-

◈ دعوتِ اِسلامي پهٔ ټوله دُنيا کښې د قرآن او سُنَّت پهٔ خدمت کښې مصروف دے، تاسو ته خواست دے چې د دِيني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي سره پوره مرسته اوکړئ، د قُرباني ورځې رانزدې دي، الله پاک دې د قُربانئ کوونکو قُربانئ قبولې

کړي! د خپلې قُربانۍ د څاروو څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ! که کيدے شي نو هم د اوس نه نيت اوکړئ چې مونږ به د خپلې قُربانۍ د څاروي څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکوو- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!

◈ د شرعي تقاضو مطابق د قُربانۍ کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي لاندې په کيدونکې اِجتماعي قُربانۍ کښې خپله حصه شامله کړئ! دې د پاره د خپلې علاقې د دعوتِ اِسلامي د ذمه دارانو سره رابطه اوکړئ- **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلوم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! | جَنَّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## قُرباني سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ده

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک: (1):** څوک چې د زړه په خوشحالۍ، د ثواب د پاره قُرباني اوکړي، د هغۀ قُرباني به د هغۀ او د دوزخ ترمينځه ديوال

---

1 ... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

جوړ شي- [1](2): ستاسو د پاره د قُرباني د ښاروي د هر يو ويښتهٔ پهٔ بدل يوه نيکي ده- [2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به قُرباني کوله، حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْها فرمائي: د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاه کښې د سپينو او تورو داغونو والا يو ګډ وړاندې کړے شو کوم چې هغوئي پهٔ خپلو لاسونو باندې ذبح کړو- [3] ◈ قُرباني پهٔ هر هغه بالغ مقيم مسلمان نارينه او زنانه باندې واجب ده کوم چې د نصاب مالِک (يعنې د چا سره چې دوه پنځوست نيمې (52.5) تولې سپين زر يا د دې ماليت رقم يا د دومره ماليت د تجارت مال يا د دې ماليت د حاجتِ اصلي نه علاوه سامان) وي- [4] ◈ څوک چې د وَس لرلو باوجود قُرباني اونکړي، د داسې کَس پهٔ باره کښې اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چې دا دې زمونږ د عيد ګاه خوا له نهٔ راځي- [5] ◈ حضرت بابا فريد الدِّين ګنج شَکر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې صدقه او قُرباني نهٔ کوي د هغهٔ نه ارام اخستے شي- [6] ◈ د قُرباني پهٔ وخت کښې هم قُرباني لازمي ده بَل يو څيز (يعنې د مال وغيره پهٔ ذريعه صدقه) کافي نهٔ ده- [7]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قُرباني د تفصيلي احکامو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه کتاب **بهارِ شريعت** جلد: 3، حصه: 15 او د اميرِ اهلسُنَّت حضرت علامه مولانا ابو

---

1… معجم کبير، جلد:2، صفحه:213، حديث:2670۔
2… ابن ماجه، کتاب:الاضاحی، باب:ثواب الاضحيه، صفحه:510، حديث:3127۔
3… مسلم، کتاب الاضاحی، باب استحباب الضحية...الخ، صفحه:782، حديث:1967۔
4… فتاویٰ ہنديه، کتاب الاضحيه، باب فی تفسيرها و رکنها...الخ، جلد:5، صفحه:362360 ملتقطاً۔
5… ابن ماجه، کتاب الاضاحی، باب الاضاحی واجبة ام لا، صفحه:509، حديث:3123۔
6… فيضان بابا فريد، صفحه:65۔
7… فتاویٰ ہنديه، کتاب الاضحيه، باب فی تفسيرها و رکنها...الخ، جلد:5، صفحه:363۔

بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 50 صفحو رساله **ابلق گھوڑے سوار** پهٔ بيعه واخلئ او دا ولولئ- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْنْ بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعې او زيارت پهٔ مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. [1] راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

---

1 ... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 151، خلاصةً۔

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې مدینے تاجدار صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وي نو د ودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. [1] راځئ چې مونږ هم پۀ شريكه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي پۀ هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي. [2] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريكه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. [3] راځئ چې پۀ شريكه يې ووائيو.

---

1 ... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه:65۔

2 ... قَوْلُ البَدِيْع، باب ثانی، صفحه:277۔

3 ... اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

## ﴾5﴿ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كَس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دے چې كله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې يـې لوَلي.[1] راځئ چې مونږ يـې هُم پهٔ شريكه ووائيو.

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريكه ووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر [1000] ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه رِوايت دے چې مدينے سركار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيكئ ليكي.[3]

---

1 ... قَوْلُ البَدِيْع، باب اَوّل، صفحه:125۔

2 ... الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30۔

3 ... مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

راځئ چې مونږ يـې هُم پهٔ شريـکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يـې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغه چې شبِ قدر حاصل کړو-[1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شريـکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونـکي الله پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، الله پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415